خـــــــــورشید عطائی
تورونتو ـ ۲۱ مارچ ۲۰۱۵

سپرلی

سپرلی دی هري خوا کي ښکلي ښکلي نظاري دي
مینو ته تیـــــــــــــــــاري مناسبي کتاري دي
سپرلي کي د ځوانی ښکلي وختونه را په یاد شي
یادونو کـــــــــي د مینې داستانونه را په یاد شي
اشنا به لاس په لاس سره گلشن کـــــي گرځولم
په ټوکو او ټکـــــــــــــالو به یې مسته خندولم
د مینې په مـــــــــــــی مسته د یو بل نه ځارېدلو
د ډیرو ښکلولو گلـــــــــــــــــگونه ښکاریدلو
د یار سره سیلونه گلستان کـــــــــي خوندور وو
میلې د نوروزي او اختـــــــــــــرونه بختور وو
دا څه وشو او څنگه شو خـــــــــالق پرودرگاره
ناڅاپه او بې وجهې شوم جـــــــلاله خپله یاره
دا دوه ورځې دنیا ده دا بهـــــــــــار او دا ځواني
کړه تېره په خوښی چې بیا و نکـــــــرې پښیماني
سپرلیه دا مې څه خیالـــــــــــونه سرکې گرځوي
د عشق او د ځـــــــــواني پیاد مې ولې غورځوي
د عشق او د ځـــــوانی ستوري مې نوره نه ځلیږي
خورشید یمه په زړه کـــــي ارمانونه مې سوزیږي